ESKP-09-XIII-01

# پښتو 9th (Fresh)

نوټ: د دويمې او دريمې برخې دپاره وخت دوه ګېنټې او څلويښت منټه دي.

## دويمه برخه

نمبرې: ۳۴

سوال نمبر II: په لاندينو جزونو کې د نهه (9) سوالونو مختصر خوابونه وليکئ، د هر سوال نمبرې برابر دي.

(i) حضور ص د ښځو باره کښې خطبه حجه الوداع کښې څه بيان کړي دي؟
(ii) د سوات رقبه څومره ده؟
(iii) بادشاه په کاغذ کښې څه ليکلي وو؟
(iv) د ډرامګۍ "مريض" مرکزي خيال څه دې؟
(v) خان زې د پلار قاتل ولې پرېښودو؟
(vi) اشراق څه ته وائي؟
(vii) موسیٰ ع کوم خاني پېدا شوې وو؟
(viii) "غوره ليکونه" د چا نثر کليات دي؟
(ix) د "پاکي پاني" نه د ليکونکي کومه پاته مراد ده؟
(x) شاه عبدالطيف بهټائي د کومې ژبې لوئي شاعر دې؟
(xi) معرئ نظم څه ته وائي؟
(xii) سردار محمد خان ترين د چا خلاف غزاګانې کړې دي؟

## دريمه برخه

نوټ: په لاندينې سوالونو کښې د دريو سوالونو خوابونه وليکئ، د هر سوال نمبرې برابر دي.

سوال نمبر III: لاندينې عبارت په آسانه او روانه پښتو کښې وليکئ.

څه وخت چې د ننګ او نام په خاطر د هتکرو په لومه کښې نښتې زوې په حقله د هغه د مور لاسونه د هغه د کاميابۍ او سرخروئۍ دپاره د جهانونو مالک په وړاندې پورته شول نو دردونه خپله ودريدل، جذبې راولړزېدې او اوښکو لار وکړه خو د هغې عرش معلٰی ته د رسېدو نه وړاندې د پوليس سپاپانو بيا د هغې زوې د شپې په تيارو کښې د سترګو پناه کړې وو.

يا

"چايې" سبق خلاصه په خپلو تکو کښې وليکئ.

سوال نمبر IV: لاندينې شعرونو تشريح په اسانه پښتو کښې وليکئ.

سيپي کښې د زړګې مې د ګوهر په شان اوسه ــــــ په سترګو کښې مې راشه د نظر په شان اوسه
د مينې هره غېږ کښې لکه ګل شه پانې پانې ــــــ د ظلم هر ګزار ته د خنجر په شان اوسه

يا

د پاکو زړونو خاوندان دغه تحفه نه غواړي ــــــ په خپل ګرېوان کښې مخ ليدې شي آئينه نه غواړي
د بې شمار وېره ده په دوی بانديې غالبه دومره ــــــ له سرو لعلونو کوی ډده خزانه نه غواړي

سوال نمبر V: په لاندينو عنوانانو کښې په يو باندې خوندوره قيصه وليکئ.

(i) چې څه کوې هغه به ريبې،  (ii) د اتفاق برکت

يا

"خپل دوست ته د وړور په واده کښې د شرکت دپاره د بلنې خط وليکئ".

سوال نمبر VI: دَ لاندينې عبارت په پښتو کښې ترجمه وکړئ.

پاکستان کې تمام اقوام اور قبائل کی تاريخ يہ ظاهر کرتی هے کہ وہ هزاروں سال سے اکٹهے اس مٹی میں رهتی هیں. هزاروں سال کی قربت نے ان کی فکر، زندگی کی طور طریقوں اور رسوم و رواج میں یکسانیت پیدا کی هے. اسی طرح ان کی زبانیں اگر بظاهر ایک دوسری سے مختلف دکهائی دیتی هیں، اکثر الفاظ کا ذخیره مشترک هے.

يا

په لاندينو ليکوالو کښې په يو باندې نوټ وليکئ. (1) طاهر کلاچوی (2) محمد نواز طائر (3) پرېشان خټک